


د مجيب الرحمن « خطيبي » ليکنه


د نشر نیټه : ۱۲ می ۲۰۱۳ میلادی


# اوبل

د کونډې مور آه !

بيا مې راپه زړه شوه

هو !

مور

هغه مور

چې تر سهاره

په زړه کې ژړيده

خو له سترگو يې

اوښکه نه تويده

هو!

هغه مور

چې د سهار له آذان سره

هغه لاس يې چې

د ماشوم د ويده کيدو لپاره

اوږد اوه

راغونډ کړ

او هغه ګلداره پيوندي تيکرى يې

چې پرمخى پر مهال

له سره خويده

په سرکاوه او د سهار

د لمانځه لپاره به

په ستومانيۍ پاڅيده

هو!

هغه مور

چې له لمانځه وروسته به يې

د کار لپاره ملا وتړله

او هغه توره چاينکه

چې د کوټى

په يو کنج کې ايښوه

راواخيسته

اود ځا لوري ته به ولاړه

په هغو لاسونو چې

د ماشوم

د نیولو ستومانۍ

وهلي وي

ګویا

ترې لیرې شي

دڅا د اوبو پری راکښنه و

او

د دولچې رنې او به

به یې تر

چاینکې ورسولې

او

نغرې ته به

روانه شوه

د کور د حویلی په یوه کنج کې

چې

د لرګیووچوکې ترلې ایښوول

را وخیستل

او

ووبه یې لګول

د هغې له هریوپوکې سره

به لوګي ورك کیده

او سکروټه به

را پیدا کیده

او

وچوکي به له لوګي ورسته

لمبه شول

بیا به یې

یو څو نور اوچوکي

نغري ته وروړاندې کړل

او په فکرونو کې به ډوبه کیده

هو!

څو دقیقې ورسته به یې

ماشوم

چې پرتوګ به یې

په ځان نه و

په ژړا ژړا

ادی ادی ویلو

په خوبولو سترګو له کوټې راووت

او په منډه به یې

خپله مور په غېږ کې و نیوله

او

هغې به پخپل ټکري

د هغه پوزه پاکوله

خو ماشوم به یې

وویل

**ادی وړی یم**

**د مور سترګي**

**چې**

**لوګیو وهلې وې**

**پاکي کړې**

**او خپل زوي به ښکل کړ**

**له سترګو به یي**

**د اوښکوڅاڅکي**

**را کښته شول**

**دا څاڅکي د اورله**

**اغیزینه نه ول**

**نو بیا دا څه ول ؟**

**هو!**

**دیو کونډې مور**

**آه وه ......**

*****

**مجیب الرحمن « خطیبي »**

**کابل ـ افغانستان**

**بازگشت به صفحه اصلی ـ www.said-afghani.org**